مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

زلمی کرزی ۲۱۲۱/۱۲/۰۷

## بازگشت همه بسوی اوست

## إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ

# د دکتور پالوال مړینه یوه درد ناکه علمي او ادبي ضایعه ده



دکتور استاد عبدالرازق پالوال

په ژور تأثر او خواشنی خبر سوم چی د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی تکړه استاد عبدالرازق پالوال د دسمبر پر شپږمه د دوشنبي په ورځ د ۸۳ کالو په عمر د کندهار په ښار کي له فاني نړۍ څخه د ابد لپاره سترګي پټي کړی په مړینه یي زیات متأثر او غمجن سوم.
پالوال د حاجی عبدالخالق زوی او د عبدالسلام لمسی وو،په ختهٔ خروټی او اصلی ځای یي د کلات سیوری وو.په ۱۳۱۷کال د کندهار د ښار د کاکړو په کوڅه کي زو کړی او د بامیزو په کوڅه کي
لوی سوی دی.په ۱۳۳۷کال د میرویس نیکه د لیسی څخه فارغ او په ۱۳۳۸ کال د کابل پوهنتون
د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځی کي شامل سوو، په ۱۳۴۱کال له پوهنځی څخه فارغ اوبیا د پوهنتون د علمي بورد په پریکړه، د ادبیانو په پوهنځي کي د پښتو په څانګه کي د استاد په توګه مقرر سوو،لوړ تحصیلات یي د انتروفولوجی په څانګه کي په امریکا کي سر ته رسولي دي، په پوهنځی کی د انتروفولوجی د مضمون په اړوند د آلمانی استاد داکتر سنای سره یي همکاری درلوده.
کله چي زه د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی محصل وم، پالوال یوه ورځ د پوهنتون په کتابتون کي پخپله نرمه او خوږه ژبه داسي راته وویل:
په ځواني کي مي شعري قریحه درلوده، کله، کله مي شعر وایه، هغه مهال زه د ادبیاتو د پوهنځی محصل وم له کابل څخه کندهار ته په رخصتي ولاړم،په ۱۳۳۹کال په کندهار کي د مطبوعاتو مدیر آغا محمد کرزی وو، شعر مي د ده دفتر ته وروړی، کرزی صاحب په ورین تندی راته وویل: شاباس ډیر ښه شعر دی سبا به یي په طلوع افغان کي نشر کړم. خو ځوانه پالواله یوه خبره درته کوم، شعر ویل پرېږده د محصلی په جیب خرڅ هره میاشت یو کتاب رانیسه. د علمي،ادبي، او تاریخي کتابونو په لوستلو سره ځان ورسوه او بیا په مقالو کښلو پیل وکړه د محصلی په دوره کي مدام زما په غوږ کي دغه د فاضل کرزی صاحب خبره وه، کرار کرار مي د کتابونه په رانیولو او لوستلو پیل وکړ او بیا مي څیړنو او مقالو کښلو ته ملا وتړله نو پالوال په لږ وخت کي د ادب او فرهنګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ډګر ته یو نامتو او تکړه لیکوال راووت. شعرونه او مقالی یی د کندهار په طلوع افغان او د کابل په انیس ورځپانه کي نشر سويدي. همدا رنګه د پښتو په ځینو سمو کلماتو استعمالولو باندی یي ګټوری مقالی هم لیکلي دي.
په شاهي دوره کي استاد د خپل تدریس په اړخ کي د ژب پوهني او راز راز لهجو د څیړنو او سپړلو په مؤخه هلمند، نیمروز او نورستان ته سفرونه کړي دي. پر اوښ يي د یوه ځای څخه بل ځای ته سفر کاوه، د جوماتونو په حجرو کي يي شپي او ورځي تیرولي او د عام ؤلس څخه یي ګرویږني او پوښتني کولي او د خپلو څیړنو پایله یي د پوهنځي د پښتو دیپارتمنت ته سپارله.
پالوال او نور محمد تره کی په پښتو ټولنه کي د پښتو قاموس په کښلواو تدوین کي سره وپیژندل.
د ثور د اوومي د کودتا څو میاشتي وروسته پالوال هره ورځ په پوهنځي کي د خلقي حکومت پرکړونو او چارو انتقاد کاوه دا ځکه چي دی د تره کی په آشنا یی مغروره وو، یوه ورځ د پوهنځي یوه استاد ورته وویل: ته د تره کی په آشنايي مغرور يي، تر څو چي دی خبريږي کښته صفوف به دي ووژني، دا چي يي ده ته وویل هوش یی پر ځای سوو پر سد راغي بيايي د انتقاد څخه لاس اخلی.
د شوروی سور لښکر د یرغل او اشغال په وخت کي د اطلاعاتو او کلتور وزیر مجید سر بلند او پالوال د میرویس نیکه په لیسه کي همصنفان وه، پالوال ته يي وویل: خارج ته مه ځه! زه یوه لوړه چوکی او په مکروریان کي آپارتمان درکوم خو غیرتی پالوال و نه منل سمدستی د کندهار له لاري کراچي ته راغي او له هغه ځای څخه د خپل فامیل سره په جرمنی کي کډوال سوو، د روسانو د ګوډاګي حکومت سره يي سخت حساسیت درلود. په کندهار کي د ده ځوان ورور خلقی حکومت وژلي وو.
پالوال مهذب، متواضع، متین او مؤدب سړی وو، په کابل کي پالوال او کاندید اکادمیسن انور نومیالی اکثره وختونه به دجمعی په ورځ د اروابناد آغا محمد کرزی کورته راتلل، دی به مدام په مجلس کي پټه خوله ناست وو او یوه یوه خبره به يي کوله خو په بحث او مشاجره کي احساساتی کیدی مګر شخړه يي نه جوړوله، د چا په نري رمازه خوابدي کیدی او وروسته يي په نرمه خندا بیرته خوشحاله کیدی، ویرجینو پيښو به ژر ژړاوه ، افکار يي د افغان ملت د وروسته پاته والي په سبب ( ؤلسي انديوالي ) ته تمايل درلود. کله چي به يي د خلکو سره ناسته ولاړه ډیره سوه پر ده باندی غمیدله او د ښځو په مخ کي يي خو بیخي ځان بایلود.
په تیرو کلنو کي د هامبورک په ښار کي افغانانو یوه غونډه جوړه کړی وه، په دغه غونډه کي استاد پالوال د افغانستان شناسي او راز، راز لهجو په باره کي وینا وکړه، ګډون کوونکو په تیره بیا ځوانانو د ده تود هرکلی وکړ.په ۱۹۸۶د میونشن په ښار کي د جرمنیانو لخوا کلتوري نندارتون جوړ سوی وو، د افغنستان د جګړو انځورونه هم په سالون کي ځوړند سوی وه، پالوال په دغه پروګرام کي رسمی دنده درلوده. ما د ننداړتون دیرانیستلو په ورځ قانون پوه داکتر عبدالصمد حامد ولید، استاد مي اروابناد حامد ته معرفی کړ چي دی زما د پلار آشنای دی، دغه زما او د ده آخری لیدنه وه .
د اروابناد ورور عبدالقادر پالوال او هاشم مهمند او نورو دوستانو ته د غمشریکي او همدردي د تسلیت مراتب وړاندی کوم. ده ته د لوی خدای څخه جنت فردوس غواړم.
دغه پیاوړی مؤرخ ، نامتو ژب پوهاند او خلاق لیکوال لاندی کتابونه لیکلي دي.

۱ - دپښتنو نوی پخوانی تاریخ (دوه ټوکه)
۲ - د پښتو نوی مصدر
۳ - د شاه مقصود زیارت
۴ - د کلام تاریخ
۵ - معیاري پښتو
۶ - موړ محوه کیږو
۷ - وګړي دوړخیان دي

چي دستار تړي هزاردي
د دستار سړي په شمار دي

په درنښت
زلمی کرزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ